PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۶۴

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۰۶۴ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۳۹ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د غبرګولي ۲۵ مه - د چهار شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق رجب ۱۴ مه د ۲۰۱۱ د جون ۱۵ مه

د ولسي جرګې چوپ احتجاج لا هم دوام لري

ولسي جرګې له دې امله، چې حکومت ورته د اعتماد د رایې ورکولو لپاره د کابینې پاتې غړي نه معرفي کوي، څلورمه ورځ هم په چوپتیا کې تېره کړه.

وکیلان، دې جرګې د یو شمېر حکومتي چارواکو د نه ورپېژندلو په غبرګون کې د چوپتیا ترڅنګ هره ورځ د اعتراض په ډول په هرو پنځو دقیقو کې مېزونه ډبوي، خو د چوپتیا په ورځو کې یې د حاضرو غړیو شمېر تر شاوخوا ۳۰ سلنه نه اوړي.

له شاوخوا یو نیم کال راهیسې داوبو او برېښنا ۳مخ

حامد کرزی به د شانګهای له غونډې څه پیغام راوړي؟



د افغانستان ولسمشر حامد کرزی د شانګهای د مرستو د سازمان د مشرانو په غونډه کې د ګډون په موخه پرون قزاقستان ته لاړ.

په هغې خبرپاڼه کې، چې د جمهوري ریاست له مطبوعاتي دفتر څخه خپره شوې راغلې، چې حامد کرزی د (غبرګولي پر ۲۴مه) له غرمې مخکې د یوه لوړ پوړي استازي په توګه د شانګهای د مرستو د سازمان په لسمه غونډه کې د ګډون په موخه د قزاقستان پلازمېنې استانې ته روان شو.

سرچینه زیاتوي، ټاکل شوې، چې ولسمشر کرزی به نن ته د دغه سازمان په عمومي غونډه کې وینا وکړي او د افغانستان لید لوری به د سیمه ییزو مرستو د پراخوالي په اړه په سیاسي، اقتصادي، د تروریزم او نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخو کې څرګند کړي.

د شانګهای د مرستو سازمان پر ۲۰۰۱ زېږدي کال د روسیې، چین، قزاقستان، قرغزستان، ازبکستان او تاجکستان په غړیتوب د سیمه ییزو مرستو د پراخوالي په موخه جوړ او دمګړی هند، پاکستان، ایران او مغولستان د ناظرو غړو په توګه په دغه سازمان کې غړیتوب لري.

د خبرپاڼې له مخې، د افغانستان ولسمشر به په دې غونډه کې د قزاقستان له ولسمشر نور سلطان نظربایوف، د چین ولسمشر هوجین تاو، د ایران ولسمشر محمود احمدي نژاد او د روسیې له ولسمشر دیمتري مدودف سره ۳مخ

افشاگری های گاردین:
گفتگوهای محرمانه کابل- واشنگتن برای عدم خروج امریکا از افغانستان

یک روزنامهٔ انگلیسی از گفتگوهای محرمانهٔ امریکا و افغانستان خبر داد که بر اساس آن، نیروهای امریکایی می‌توانند، برای دهه‌ها در افغانستان بمانند.

مقام های امریکا و افغانستان در میانه گفتگوهای محرمانه دربارهٔ توافق امنیتی طولانی مدتی گیر افتاده‌اند که بر اساس آن، نظامیان، پرسونل استخباراتی و نیروی هوایی امریکا برای دهه‌ها در افغانستان خواهند ماند.

بر اساس این گزارش، روسیه، چین و هند نیز، نگران "مشارکت استراتیژیک" هستند که طبق آن امریکاییان پس از سال ۲۰۱۴ نیز، در افغانستان خواهند ماند.

گاردین نوشت: با اینکه این مذاکرات به‌طور علنی اعلام نشده است، اما بیش از یک ماه است که برای انعقاد توافقنامه، مشارکت استراتیژیکی که بر اساس آن حضور نیروهای امریکایی در افغانستان پس از پایان ۲۰۱۴ تضمین می‌شود، در جریان است.

قرار است تا پایان سال ۲۰۱۴ تمام ۱۳۰ هزار نیروی نظامی امریکا از افغانستان خارج شوند و موضوع گفتگوهای محرمانه برای ماندن در افغانستان در حالی مطرح می‌شود که محور



مباحث در واشنگتن و ۴۹ کشوری که درگیر جنگ در افغانستان هستند، حول موضوع تسریع خروج از افغانستان قرار دارد.

مقام های امریکایی بر این باور اند، با اینکه "هیلری کلنتن" وزیر خارجهٔ امریکا ص۳

امریکایي چارواکي له افغانستانه د ځواکونو د ایستلو په اړه سره وېشل شوي

د امریکا د ماساچوسیت ایالت پخوانی ګورنر میت رومني او په کانګریس کې د ټکساس استازي ران پال له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د ایستلو له پروګرام سره مخالفت وکړ.

رومني وړمه شپه د جمهوري غوښتونکي ګوند په ریاستي مناظره کې وویل چې له افغانستانه باید ځواکونه باید له هغه مهالوېش سره سم وایستل شي چې په دې هېواد کې یې دېره امریکایي قومندانان او جنرالان شرایطو ته په کتو سره ټاکي.



د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې ده وویل چې امریکایي ځواکونه باید له افغانستانه ژر تر ژره ووځي، خو پکار ۳مخ

بریتانیا ۴۰۰ سرباز خود را از افغانستان خارج می کند

بریتانیا در سال جاری ۴۰۰ سربازش را از افغانستان بیرون خواهد کرد.

بر اساس گزارشی از رسانه های کشور، سفیر بریتانیا در کابل با اظهار این مطلب می گوید، حکومت بریتانیا تصمیم دارد، تا در سال جاری ۴۰۰ سربازش را از افغانستان بیرون کند.

وی می افزاید، روند خروج سربازان بریتانیایی از افغانستان تا ۳ سال و چند ماه دیگر به گونهٔ تدریجی پایان خواهد یافت و نیروهای افغان خود تامین مسوولیت امنیت را بر عهده خواهند گرفت.

از سوی دیگر، وی حمایت کشورش را از برنامهٔ صلح اعلام می کند و می گوید، کشور از ایجاد کمسیون صلح میان افغانستان و پاکستان نیز، حمایت می کند.

اوباما طرح خروج نظامیان امریکایی از افغانستان را بررسی می کند

نظامیان امریکایی در پی بازنگری در استراتیژی جنگ امریکا درافغانستان در اواخر سال ۲۰۰۹ به این کشور اعزام شده بودند.

دولت اوباما طرح خروج ۳۰ هزار نظامی امریکا از افغانستان را در طی ۱۲ تا ۱۸ ماه آینده بررسی می‌کند.

به گزارش رویترز، بعد از کشته شدن اسامه بن لادن و با وجود اعلام میزان خشونت‌ها در افغانستان، فرماندهان امریکایی از پیشرفت در این کشور و خارج کردن برخی مناطق از کنترول طالبان خبر می‌دهند.

کاخ سفید نیز، در عین حال منتظر اعلام نظر «جنرال دیوید پترائوس» قوماندان نیروهای امریکایی در افغانستان است، تا اعلام کند، در ماه جولای چه تعداد از نظامیان امریکایی از افغانستان خارج خواهند شد.

مقام ها و قوماندانان سابق امریکایی می‌گویند: بارک اوباما رییس جمهور امریکا ممکن است، برای خروج سی هزار نظامی این کشور از افغانستان، زمان ص۳



د کابل ککړه هوا، د میلیونونو انسانانو د ژوند پر وړاندې جدي ګواښ!

۲

د کابل ککړه هوا، د میلیونونو انسانانو د ژوند پر وړاندې جدي ګواښ!

نسیم بریال



په افغانستان کې په ځانګړې توګه په کابل ښار کې د هوا ککړتیا یا د چاپېریال ککړتیا هغه جدي او خطرناکه ستونزه ده، چې تر اوسه هم ورته په ټیټه ستر ګه کتل کېږي او یوازې په تشو او کلیشه یي خبرو باندې یې یادونه کېږي، خو دا چې دا ستونزه څومره لویه ده، څه ناوړه پایلې لري، د څومره انسانانو ژوند ګواښي، همدشان د ستونزې د حل بنسټیزې لارې څه دي، څه باید وشي، څوک یې وکړي او څنګه یې وکړي؟ دا پوښتنې سم او پوره ځواب ته اړتیا لري، خو د دې پوښتنو ځواب په حقیقت کې څه ساده او اسانه خبره هم نه ده، ځکه دا موضوع له هره اړخه دومره مهمه ده، چې په افغانستان کې د جګړې او ترور ېزم تر موضوع یې اهمیت ډېر دی. یو شمېر کارپوهان وایي چې که څه هم جګړه په افغانستان کې هر کال په زرګونو کسان وژني، خو د کابل ککړه هوا تر جګړې ډېره خطرناکه او وژونکې ده.

د کابل ښار په ښلا ښلو سیمو کې د هوا د ککړتیا لاملونه په ښکاره تر سترګو کېږي. په ښار کې زاړه موټران، بې کیفیته تېل، د کثافاتو د سوځېدو دود، د ښار وران او خامه سړکونه او جادې او داسې نور د ښار د هوا د ککړتیا په برخه کې تر تولو د سر په کتار کې درېږي. د کابل ښار ډېرې نارینه ښاریان خپلې خولې او پوزې په ماسکونو او یا دسمالونو تړي ترڅو دوړې او خاورې تنفس نه کړي. ښځې خو بیا دغه کار د خپلو چادریو په مرسته تر سره کوي. د کابل په ښار کې یو فارمسیست، احمد ولي، وایي چې که په کابل ښار کې ماسک وانه غوندي د سړي د روغ پاتې کیدو امکان نشته. د کابل ښار روغتونونو ته هم د هرې ورځې په تېرېدو سره په تنفسي ناروغیو اخته ډېر شمېر کسان مراجعه کوي. ملالی چې د نهو ماشومانو مور ده او اوس په یوه روغتون کې بستري ده وایي چې د درېیو کلونو را په دې خوا ناروغه ده. دا وایي: «کله چې خبرې کوم دوې یا درې دقیقې وروسته مې نفس تنګېږي. کله چې نفس باسم په سینه کې مې درد وي. نه شم کولای، چې ډېر وخت و درېږم او یا خو هم وګرځم.» د افغانستان د چاپېریال ساتنې د اداري د تېر کال د رپورټ په حواله هر کال په کابل کې څه نا څه ۳۰۰۰ کسان د هوا د ککړتیا له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي. حال دا چې د ملګرو ملتونو د راپور له مخې پر ۲۰۱۰ کال په ټول افغانستان کې د جګړې له امله ۲۷۷۷ کسان وژل شوي وو. د کابل د هوا خرابوالی ډېر لاملونه لري، خو تر ټولو لوی لامل یې په دغه ښار کې د ډېر نفوس راغونډېدل دي. وروسته له هغه چې په افغانستان کې د حامد کرزي حکومت جوړ شو، د هېواد له ښلابېلو سیمو څخه افغانان کابل ته د کار او ښه ژوند لپاره ورغلل. په وروستیو کې خو د جګړې له امله هم ډېری کسان دغه ښار ته کوچېدلي چې د کابل نفوس یې د دغه ښار له اصلي ظرفیت څخه څو وارې لوړ کړی دی. د کابل ښار د یو میلیون انسانانو د ژوند له پاره جوړ شوی و، خو اوس مهال په دغه ښار کې څه نا څه پنځه میلیونه انسانان ژوند کوي. د کابل د ښار واټونه خو ډېر وخت له جرمني، کاناډا او امریکا څخه په غیرقانوني توګه وارد شویو زړو موټرونو په واسطه بند وي. دغه موټرونه خو یو زاړه وي او بل داچي بې کیفیته تېل په کې استعمالېږي چې دغه دواړه د دې لامل کرځي، چې ډېر دود تولید شي او هوا چټله کړي.

د ښار ډېری واټونه خو ډمبر شوي هم نه دي، ځکه نو کله چې پرې موټر ګرځي ډېر ګرد او خاورې هم له ځان سره هوا ته پورته کوي. په کورونو او فابریکو کې هم خلک د برېښنا د تولید لپاره له جنراتورونو څخه کار اخلي چې د هوا د خرابوالي یو بل لامل همدا دی. همداشان دې ته ورته نور ډېر لاملونه هم شته، چې د ټولو راوړل دلته اړین نه برېښي، ځکه اړینه موضوع ده، چې هغه د چاپېریال ککړتیا ده او دې ته باید ډېره پاملرنه وشي. د افغانستان د روغتیا وزارت په وینا په ورستیو شپږو کلونو کې د هغو کسانو شمېر چې پر تنفسي ناروغیو اخته دي ۴۸۰۰۰۰ ته رسیدلی چې دغه رقم د شپږو کلونو په پرتله دري برابره لوړ شوی دی. تېر کال د افغانستان د چاپېریال ساتنې اداري په غوښتنه په کابل کې د پنجشنبې ورځ هم عامه روخصتي اعلان شوه او په یو ځل تمدید سره دا دی تر اوسه دوام لري، او په شمار ځو ورځې یې پاتې دي، چې دغه تمدید هم پوره شي، خو معلومه نه چې بیا به هم تمدید شي او که نه او ایا د ښار په چاپېریال کې یې کوم بدلون راوستی او که نه؟ خو روغتیایي پوهان وایي چې، که د چاپېریال ساتنې په هکله کوم اقدام ونه شي، نو د دغه ښار ښاریان به له ډېرو ستونزو سره مخامخ شي. په کابل کې د جمهوریت روغنتون یو ډاکټر، عرفان الله شفا وایي که اوسنی وضعیت ادامه پیدا کړي، افغانان به په نژدې راتلونکي کې له یوه روغتیایي ناورین سره مخ شي. نو دا چې د دې ستر او جدي ګواښ د له منځه وړلو لپاره څه کول په کار دي او څوک باید دا کار وکړي، په دې اړه مور پخوا هم یوه سپارښتنه کړې وه او هغه دا چې دا مسوولیت او دنده مو یوازې د چاپېریال ساتنې په اداره پورې نه، بلکې په ځینو نورو ادارو پورې هم ترلی دی، لکه هغه اداره چې تر ډېره د چاپېریال ساتنې موضوع دوی ته محولېږي، هغه لومړی د سوداګرۍ وزارت دی، چې دوی باید دې مسئلې ته ډېر ځیر وي، ځکه په هېواد کې د اوسنیو ډېری کارېدونکو تېلو او غازو کیفیت ښکته تیټ دی او همدا لامل دی، چې په هېواد کې د تنفسي ناروغیو کچه مخ په لوړېدو ده او د ښارونو چاپېریال هم د مضرو ګازونو او دودونو په کلکه او پراخه ولکه کې را ګیر دي. دویم د اوبو او برېښنا وزارت دی، چې له بده مرغه په نژدې یوولسو کلونو کې یې یوازې د کابل ښار هم پر برېښنا مور نه کړ، سره له دې چې په میلیاردونو میلیادونو ډالرو یې په دې برخه کې ولګول او له بهرنیو هېوادونو یې د خیراتي او د سوال د برېښنا قردادونه وکړل او له مخې یې برېښنا وارده کړه، خو بیا پر کابل ښار سر ببره د هېواد په ټولو ښارونو او کلیو کې د برېښنا نه شتون تر ټولو مهمه ستونزه ده، ځکه د برېښنا په نه شتون کې خلک له تېلو او نورو دود لرونکو توکو څخه ګټه اخلي او هغه بیا د هوا او چاپېریال د ککړوالي لامل کېږي. بل د کابل ښاروالي او

د ښار جوړولو وزارت ۳مخ

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

سازمانهای منطقوی و گسترش همکاری ها

قرار است امروز اجلاس سران سازمان همکاری های شانگهای در شهر آستانه پایتخت قرغیزستان دایر گردد.

این سازمان در سال ۲۰۰۱ توسط سران پنج کشور روسیه، قزاقستان، چین، قرغیزستان، ازبکستان و تاجکستان بنیان گذاشته شد، تا همکاری های منطقوی را تقویه و بهبود بخشند که بعد ها چهار کشور دیگر هندوستان، پاکستان، ایران و منگولیا بحیث کشورهای ناظر شامل این پیمان شدند.

گرچه افغانستان عضو این سازمان نیست، اما از سال ۲۰۰۵ به حیث مهمان دراین سازمان اشتراک می نماید. اما یک منبع وزارت امور خارجهٔ افغانستان اظهار نموده است که پیشنهاد گردیده، تا دولت افغانستان امسال به حیث ناظر در این سازمان پذیرفته شود.

قرار است، رییس جمهور کرزی به حیث مهمان در این اجلاس حضور یابد.

انتظار می رود، اعضای حاضر در این نشست، مسالهٔ پیوستن افغانستان به گروه ناظرین سازمان را نیز بررسی کنند.

آندره گروزین رییس بخش آسیای میانه و مرکزی در انستیتوت کشورهای جامعهٔ مشترک المنافع، در مصاحبه یی با رادیو "صدای روسیه" گفته است: "هستهٔ فعالیت های سازمان شانگهای را مبارزه برای حفظ ثبات در فضای کشورهای عضو سازمان وناظران آن تشکیل می دهد. افغانستان برای این سازمان یک مسألهٔ مهم است، زیرا بدون حفظ آرامش و ثبات در این کشور، نمی توان از ثبات در آسیای مرکزی، آسیای جنوبی و همچنین شرق میانه سخن گفت. سازمان همکاری های شانگهای باید وقایع افغانستان را بررسی کرده و استراتیژی دراز مدت را در خصوص این کشور مشخص کند. با کاهش نیروهای ناتو در افغانستان، مشکلات زیادی بروز خواهد کرد. از جملهٔ این مشکلات، مسألهٔ مواد مخدر، فعالیت های گروه های افراطی، مهاجرت غیر قانونی و برهم خوردن ثبات عمومی در کشور می باشند".

این مسایل پس از الحاق افغانستان بحیث ناظراین سازمان، به طور مفصل تری مورد بررسی قرار خواهند گرفت و آنگاه افغانستان می تواند، به عنوان یک عضو سازمان از ثبات لازم نیز در کشور برخوردار گردد.

سازمان همکاری‌های شانگهای (Shanghai Cooperation Organisation)یک سازمان بین دولتی است که برای همکاری‌های چند جانبهٔ امنیتی بنیان گذاشته شد. سازمان همکاری‌های شانگهای در حقیقت ترکیب جدید سازمان شانگهای ۵ است که در سال ۱۹۹۶ تأسیس شده بود، ولی نام آن پس از عضویت ازبکستان به سازمان همکاری شانگهای تغییر داده شد.

علاوه بر اعضای اصلی، ابتدا مغولستان در سال ۲۰۰۴ و یک سال بعد ایران، پاکستان و هند به عنوان عضو ناظر به سازمان ملحق شدند.

سران کشورهای عضو در جون ۲۰۰۲ در شهر سنت‌پیترزبورگ روسیه گرد آمدند، تا جزییات اساسنامه سازمان را که شامل اهداف، ساختار و راهکارهای سازمان بود به بحث و بررسی بگیرند. پس از این توافقنامه، موجودیت سازمان عملاً از نظر حقوق بین‌المللی رسمیت پیدا کرد.

همکاری در مسایل امنیتی، همکاری‌های اقتصادی و همکاری‌های فرهنگی بین اعضا نیز از دیگر ویژه گی‌های سازمان همکاری‌های شانگهای به شمار می‌آید.

توقع می رود تا سازمان همکاری های شانگهای به درخواست دولت جمهوری افغانستان لبیک گفته و این کشور را بحیث عضو و یا ناظر این سازمان بپذیرند، تا افغانستان هم از فیصله ها و تصاویب این سازمان مانند سایر اعضای آن یکسان مستفید گردد. روابط اقتصادی ومسایل فرهنگی بین اعضای این سازمان توسعه وگسترش یافته، چالش های مواد مخدر کاهش یابد و در راستای مبارزه با تروریزم و دهشت افگنی به توافقاتی نایل گردند، اما به صورت کل، این سازمان نمی تواند، از عهدهٔ حل چالش های منطقه یی از جمله معضلهٔ افغانستان برآید؛ زیرا کشورهایی که شامل این سازمان هستند، هر کدام در منطقه و افغانستان منافع خاص خود را تعقیب و دنبال می کنند؛ روی این ملحوظ، نسخهٔ شانگهای برای افغانستان به هیچ صورت، مداوای درد افغانستان نخواهد شد.

اوباما طرح خروج نظامیان ...

طولانی تری در نظر بگیرد.

اگر اوباما با چنین طرحی موافقت کند، امریکا به سمت کاهش نیروها در افغانستان پیش خواهد رفت، اما درنهایت، این قوماندانان نظامی هستند که دربارهٔ زمان دقیق خروج نظامیان امریکایی از افغانستان در چارچوب این طرح تصمیم خواهند گرفت، کاری که دربارهٔ زمان خروج نظامیان از عراق نیز، صورت گرفت.

«رابرت گیتس» وزیر دفاع امریکا نیز، هشدار داد، کاهش عجولانهٔ نیروهای امریکایی در افغانستان دستاوردهای واشنگتن در این کشور را بر باد خواهد داد.

این در حالی است که در سال‌های اخیر شورشیان طالبان مناطق تحت کنترول خود در افغانستان را گسترش داده‌اند و سبب افزایش خشونت‌ها در مرز پاکستان نیز شده‌اند.

بر اساس این گزارش، درخواست ها برای پایان دادن به جنگ افغانستان که بیش از ۱۱۰ میلیارد دالر در سال هزینه در بر دارد، موضوع گفتگو میان مقامات واشنگتن است.

عبرتی که از جنگ ده سالهٔ...

ادامه یابد. درعین حال، امریکا در حال بررسی احتمال مذاکره با طالبان برای یافتن راه حلی صلح‌آمیز است.

پترائوس ضمن ارایه و تشریح گزینه‌های ممکن برای اوباما، به ارایهٔ توضیح در خصوص عواقب خروج نیروها در میزان و حالت‌های مختلف خواهد پرداخت. به رغم اینکه ترجیح و تمایل پترائوس مبنی بر خروج حداقل تعداد نیروها از افغانستان است، نحوهٔ بیان وی به گونه‌یی خواهد بود که نشان دهد، پیروزی‌ها حتا با تعداد کمتر نیروهای امریکایی قابل دسترسی هستند.

برخی از هواداران و مدافعان خروج گسترده نیروها به موضوع کشته شدن اسامه بن لادن، رهبر القاعده به عنوان عاملی برای کمرنگتر شدن حضور نظامی امریکا اشاره می‌کنند.

این دلیل چندان متقاعد کننده به نظر نمی‌آید؛ چرا که اعضای القاعده در افغانستان و سایر مناطق برای انجام اقدام‌های تروریستی نیازی به دستور بن لادن ندارند. اما مرگ بن لادن یادآور این است که امریکا به افغانستان رفت، تا جنبش طراح حوادث یازدهم سپتمبر را مجازات کرده و از بین ببرد.

با سپری شدن ۱۰ سال، به نظر می‌رسد، اهداف این حمله تا حدود بسیار زیادی تغییر کرده باشد. رایان کروکر با ارزیابی اوضاع اخیر و اقدام‌های امریکا در افغانستان اظهار داشت: در حوزه‌های مختلف چالش‌های بزرگی باقی است که حکومت، اعمال قانون در مواردی از قبیل فساد که مانع رشد اقتصادی است، اعتبار کشور افغانستان، تحولات اقتصادی، مسایل صحی و تعلیمی و سایر خدمات عمومی از آن جمله‌اند.

برای حمایت از خروج نیروهای امریکا در ماه جولای، وضعیت کنونی افغانستان خود علت مناسبی است. اگر حضور گستردهٔ نظامی امریکا در افغانستان به دستیابی اهداف واشنگتن در مدت زمان معقول منجر می‌شد، نگاه نسبت به این موضوع متفاوت می‌بود، اما با گذشت حدود یک دهه و به رغم برخی موفقیت‌ها باید گفت، این عملیات ناامید کننده بوده است.

موفقیت‌های نظامی قابل ملاحظه‌یی وجود دارد، اما طالبان همچنان در مناطق متعددی از کشور دارای نفوذ کارایی است. همچنین تلاش‌هایی در زمینهٔ بهبود اوضاع جامعهٔ مدنی و افزایش موقعیت‌های تحصیلی به ویژه برای دختران به عمل آمده، اما این تلاش‌ها همچنان با مقاومت‌هایی مواجه است.

دولت رییس جمهور کرزی که بنا به فرض یکی از شرکای امریکاست، تنها به همکاری برهه‌یی می‌پردازد و دچار فساد است.

با این همه می‌توان گفت، به رغم منافعی که واشنگتن در روابط خود با کابل از آن برخوردار است، خروج گستردهٔ نیروهای امریکا در ماه آینده به ایجاد تعادل بیشتری میان منابع و مسوولیت‌ها منجر خواهد شد.

گفتگوهای محرمانه کابل - واشنگتن ...

اخیرا گفته است، واشنگتن خواستار پایگاه های دایمی در افغانستان نیست، اما عبارتی که او به کار برده اجازه می‌دهد، تا انواعی از ترتیبات ممکن اتخاذ شود.

بر همین اساس، یکی از مقام های امریکایی به گاردین گفت: نیروهای امریکایی در کشورهای مختلف با مدت زمانی قابل توجهی حضور دارند که هیچ کدام حضور دایمی نیست.

از سوی دیگر، مقام های ناتو همچنین می‌گویند، نیروهای انگلیسی مدت‌های طولانی پس از گذشت سال ۲۰۱۴ در افغانستان خواهند ماند و بیشتر به آموزش و تربیت نیروهای افغانستان می‌پردازند.

این روزنامهٔ انگلیسی نوشت: با اینکه آنها "نیروهای رزمی" نخواهند بود، اما به این معنا نیست که آنها در جنگ شرکت نخواهند کرد. به عنوان مثال مربیان می‌توانند، به طور منظم در کنار نیروهای افغان بجنگند.

دستکم پنج پایگاه در افغانستان وجود دارد که احتمالا کاندیدای پذیرایی نیروهای ویژهٔ امریکا، عوامل استخباراتی، تجهیزات تجسس و جنگ‌افزارهای نظامی پس از ۲۰۱۴ باشد.

گاردین افزود: اخبار گفتگوهای امریکا-افغانستان نگرانی عمیقی را در میان قدرت های منطقه و فراتر از آن ایجاد کرده است. این گونه برداشت می‌شود که روسیه و هند نگران حضور طولانی مدت امریکا هستند. چین که به دنبال سیاست عدم مداخله در افغانستان است نیز نارضایتی خود را آشکار کرده است. مقام های ارشد پاکستانی نیز در سفر اخیر خود به افغانستان سعی کردند، مقام های این کشور را متقاعد کنند، به چین به عنوان شریک استراتیژیک نگاه کنند نه به امریکا.

بر اساس این گزارش، مذاکره کننده گان امریکایی اواخر ماه جاری میلادی برای آغاز دور جدیدی از گفتگوها وارد افغانستان خواهند شد و با این حال، مقام های افغان به طور کلی با اولین پیش نویس امریکا در خصوص توافقنامهٔ مشارکت استراتیژیک مخالفت کرده و ترجیح داده‌اند، تا پیشنهاد خود شان مطرح شود. این پیشنهاد دو هفته قبل به واشنگتن ارایه شده است.

یکی از مقام های افغان دربارهٔ پیشنهاد امریکا به گاردین گفته است: پیش نویس امریکا به طور مبهم فورمول بندی شده بود.

د کابل ګډه هوا، د میلیونونو...

دی، که مور د هېواد پلازمېنې کابل ته نظر وکړو، نو وینو چې د دې پلازمېنې اویا سلنه سړکونه او جادې اوس هم خامې دي، سره له دې چې د بیارغونې تر نامه لاندې په میلیاردونو ډالر هم لګول شوي او لګول کېږي. همداشان هغه سړکونه چې د ځو کلونو په بهیر کې د دوی له خوا د ډېر لوړ قرارداد په بدل کې جوړ شوي، اوس یې حالت ډېر خراب دی او ځینې سړکونه خو بېرته پر کندوالو بدل شوي. د دوی لـه خـوا جوړ پـدونکي سړکونه که ډېر دوام وکړي، نو یو کال او یا دوه کاله، دا ځکه چې له یوې په کې سم مواد نه کارول کېږي او له بلې خوا پراخ اداري فساد دا پروسه له دا وړ ستونزو سره مخ کړې ده. په دې توګه که موږ وګورو د کابل او د هېواد د نورو لویو ښارونو پر سر دا تور له لوخوړ ډک چتر یوازې د یادو ادارو له بې کفایتۍ ځخه دی، ځکه مضر ګازونه او مضر ټبل، چې د سوداګرۍ په وزارت پورې اړه لري، نور له ېلابېلو سون توکو ځخه پیدا کېدونکي دودونه، چې په د برېښنا وزارت بې کفایتي څرګندوي او همداشان په ښار کې د خاور، ایرو او دوړو تراکم، چې د کابل ښاروالۍ او ښار جوړولو وزارت بې کفایتي ښیي. همداشان د اطلاعاتو او کولتور، ټولنیزو چارو وزاراتونه هم د چاپېریال ساتنې په برخه کې د عامه پوهاوي په اړوند بې کفایته مسوولین ګڼل کېدای شي. په دې توګه تر څو د هېواد ټولې اداري په ځانګړې توګه یادې شوې اداري د چاپېریال ساتنې په برخه کې جدي او هر اړخیزې هلې ځلې ونه کړي او د چاپېریال ساتنې له اداري سره په همغږیتوب کې په دې برخه کې ژر تر ژره اړین ګامونه پورته نه کړي، نو په کابل او نورو لویو ښارونو کې د میلیونونو انسانانو ژوند ته د ګواښ پېښووونکي به همدوی وي او باید تر ډېره له همدوی سره حساب و کتاب وشي.

حامد کرزی به د شانګهای له ...

وګوري او هم به د دوه اړخیزو اړیکو د پراخوالي او د شانګهای د مرستو د سازمان په چوکاټ کې د مرستو د پراخوالي په اړه خبرې اترې وکړي.

لکه څنګه چې افغانستان غوښتي، څو د شانګهای د مرستو په سازمان کې غړیتوب ورکړل شي، ویل کېږي، چې د دغه سازمان په یاده غونډه کې به د افغانستان د غړیتوب موضوع هم ترڅېړنې لاندې ونیول شي.

افغانستان هر وخت د دغه سازمان په کلنیو غونډو کې د مېلمه په توګه ګډون کوي او ولسمشر کرزي هم په اوسنۍ او په تاشکند کې د تېر کال په غونډه کې د مېلمه په توګه ځای درلود. د پژواک د راپور له مخې له حامد کرزي سره په دغه سفر کې د بهرنیو چارو وزیر زلمی رسول، د ملي امنیت مشاور ډاکتر رنګین دادفر سپنتا، د جمهوري ریاست د دفتر مرستیاله حمیرا لودین اعتمادي او د ولسمشر ویاند وحید عمر ملتیا لري. دا چې نوموړی به له دې غونډې افغانستان ته له ځانه سره څه پیغام راوړي او څومره به دا غونډه د افغانستان پر روانو چارو اغېزه ولري، دا به وروسته څرګنده شي.

امریکایي چارواکي ...

ده چې لومړی هغه شرایط رعایت شي چې یادونه یې وشوه. خو د کانګریس غړي ښاغلي پال درونې خلاف وویل ولسمشراوباما باید جنرالانو ته ووایي چې څه وکړي. ده وویل، که دی ولسمشر وي باید ژر تر ژره له افغانستانه پوځیان وباسي. پال دافغانستان جګړه بې هدفه وبلله، ویې ویل چې د امریکا متحدایالتونه په افغانستان کې د جګړې لپاره هېڅ هدف نه لري. له بلې خوا درویټرز خبري اژانس د راپور له مخې داوباما حکومت په دې پلان کار کوي چې په راتلونکو دوولسو تر اتلسو میاشتو کې له افغانستانه دېرش زره حربي ځواکونه وباسي، خو په دې برخه کې قومندانانو ته واک سپاري چې څومره سرتېري باید په څومره سرعت یا وخت کې وایستل شي.

د اسامه بن لادن له وژل کېدو او د امریکا پر بودیجې د فشار له زیاتېدو وروسته له افغانستانه د ځواکونو د ایستلو غوښتنې زیاتې شوې دي. په همدې حال کې له دې سره سره چې په افغانستان کې تشدد زیات شوی امریکایي قومندانان په وروستیو میاشتو کې د طالبانو پرضد د جګړې په میدان کې پر خپلو بریاوو خوښي ځرګندوي. سپینه مانۍ په افغانستان کې د ناټو او امریکایي پوځیانو د عمومي قومندان جنرال ډیویډ پیټرایوس سپارښتنو ته انتظار باسي چې په جولای کې له افغانستانه ځومره سرتېري وباسي.

د ولسي جرګې چوپ احتجاج ...

ښځو چارو، عامې روغتیا، ښاري پراختیا، ترانسپورت او هوایي چلند، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ او د لوړو زده کړو وزارتونه د سرپرستانو له خوا اداره کېږي. د دغو وزارتونو سرپرستان وروسته له هغه، چې حامد کرزی د دویم ځل لپاره د ولسمشر په توګه وټاکل شو، ولسي جرګې ته د کاندید وزیرانو په توګه ورو‌پېژندل شول، خو د اعتماد رایه یې ترلاسه نه کړه او بیا د دغو وزارتونو لپاره کاندید وزیران ولسي جرګې ته نه دي ور‌پېژندل شوي. دغه راز ولسمشر حامد کرزي تر دویم ځل ولسمشر کېدو وروسته د خپلواکو ریاستونو لپاره کاندیدان جرګې ته نه دي معرفي کړي او د سترې محکمې د درېیو غړیو وخت هم پوره شوی او باید پر ځای یې کسان دې جرګې ته د اعتماد د رایې تر لاسه کولو لپاره ور‌پېژندل شي. ولسي جرګې په تېر شاوخوا یو نیم کال کې څو ځلې له ولسمشر حامد کرزي غوښتي، چې د یادو څوکیو لپاره کاندیدان ور معرفي کړي، خو سره له دې چې څو ځله یې ژمنه کړې، خو تر اوسه یې دغه کار نه دی کړی. دري ورځې وراندې هم د ولسمشر ویاند ویلي وو، چې په کابینه کې به تر یو لړ بدلونونو وروسته د باور د رایې د ترلاسه کولو په موخه کاندید وزیران ولسي جرګې ته ور معرفي شي. د ولسي جرګې لومړي مرستیال خالد پښتون پرون د دې جرګې د ناستې په پیل کې وویل، چې د تېرو ورځو په څېر د دوی دا غونډه هم د چوپتیا اجنډا لري. ولسي جرګې د دې لپاره، چې ولسمشر یاد کسان ور معرفي کړي او دوی رایه ورکړي، د اوړي یوه نیمه میاشتنۍ رخصتي د روانې میاشتې په ۱۵ مه د پنځلسو ورځو لپاره ځنډولې ده.

عبرتی که از جنگ ده سالهٔ افغانستان باید آموخت

ترجمه: ملاخیل

رییس جمهور امریکا اعلام کرد، ماه آیندهٔ خروج نیروهای این کشور از افغانستان آغاز خواهد شد و بی‌شک پنتاگون مایل است، میزان نیروهای خروجی در کمترین حد باشد، اما درس‌هایی که از جنگ حدود ۱۰ ساله می‌توان گرفت، نشان می‌دهد که زمان کاستن از نقش امریکا در افغانستان فرا رسیده است.

بارک اوباما، رییس جمهور امریکا، باید به زودی در خصوص خروج نیروهای این کشور از افغانستان تصمیم‌های لازم را اتخاذ کند. این تصمیم می‌تواند، بر خروج چشمگیر نیروهای امریکا طبق آنچه رییس جمهور این کشور متعهد شده بود، دلالت کند و یا تنها در خروج تعداد اندکی از نیروها خلاصه شود.

پس از حدود یک دهه جنگ و لشکر کشی که به نظر برخی نتایج را به دنبال داشته است، رییس‌جمهور امریکا باید به تعهدات خود جامه عمل بپوشاند؛ حتا اگر انجام این کار به معنای عدم توجه به نظرات مشاوران نظامی وی تلقی شود.

در دسمبر سال ۲۰۰۹، زمانی که اوباما با استقرار ۳۰ هزار نیروی کمکی در افغانستان موافقت کرد و با این کار رقم نیروهای امریکایی مستقر در این کشور را به ۱۰۰ هزار رساند، وی اعلام کرد که خروج نیروها را در ماه جولای سال ۲۰۱۱ آغاز خواهد کرد.

اما از همان ابتداء، مشاوران اوباما در پنتاگون این موضوع را مشخص کردند که خواستار خروج حداقل تعداد نیروها - شاید بین ۵۰۰۰ تا ۱۰ هزار - هستند. رابرت گیتس، وزیر دفاع امریکا در سفر اخیر خود به افغانستان، به این تمایل مشترک میان وی و اغلب اعضای پنتاگون اشاره کرد.

وی با اشاره به اینکه نیروهای امریکا پیشرفت‌های بسیاری داشته‌اند، افزود: فکر می‌کنم، لازم است، فشارها را ادامه دهیم.

لئون پانه‌تا، رییس سازمان استخبارات مرکزی امریکا (سیا) که در حال حاضر، به عنوان گزینهٔ اصلی برای جایگزینی گیتس به شمار می‌رود، اعلام کرد که از تقاضای امریکا برای خروج چشمگیر نیروها حمایت می‌کند، اما این اقدام باید با مسوولیت‌پذیری لازم انجام گیرد.

وی پیروزی‌های اخیر را با عبارت "شکستنی و برگشت‌پذیر" توصیف کرد؛ عبارتی که توسط دیوید پترائوس، قوماندان نیروهای ایتلافی ناتو در افغانستان و رایان کروکر، سفیر منتخب آیندهٔ اوباما در افغانستان نیز، به کار گرفته شده است.

این پیروزی‌ها شامل برقراری صلح در ولایت های هلمند و قندهار می‌شود. این ولایت ها پیش از این تحت کنترول طالبان بود، اما این حقیقت که این پیروزی‌ها شکستنی و برگشت‌پذیر است، لزوما نباید به این صورت، تعبیر شود که خروج عمدهٔ نیروها بدان عمل کند، تصمیم گیری در خصوص اولویت‌ها برای نیروهای باقی مانده و تسریع فرآیند تعلیم نیروهای نظامی افغانستان است؛ چرا که قرار است، نیروهای افغانستان در سال ۲۰۱۴ مسوولیت‌های امنیتی کشور شان را برعهده گیرند.

یادآوری این مهم خالی از لطف نیست که حتا در صورت خروج چشمگیر نیروها، هزاران نیروی امریکایی همچنان در افغانستان باقی می‌مانند، تا فشارها علیه طالبان همچنان

ص۳

ASA
American Soybean Association
If you believe, belong.

اعلان داوطلبی

AMERICAN SOYBEAN ASSOCIATION
KABUL - AFGHANISTAN

موسسهٔ امریکن سویابین اسوسیشن (ASA) و دیپارتمنت زراعت ایالات متحده امریکا (USDA) اعلام میدارد:

پیشنهاد فروش ۳۳۰۰ متریک تن روغن خوردنی تصفیه شده سویا بین که تحویلی آن بلافاصله از تاریخ ۲۰ جون سال ۲۰۱۱ الی ۱۰ جولای سال ۲۰۱۱ صورت خواهد گرفت.

پولی که از فروش آن بدسترس قرار میگیرد به پروژه هایی انکشافی زراعتی افغانستان مساعدت خواهد شد.

داوطلبی بتاریخ ۲۰ جون سال ۲۰۱۱ بشکل آفر هایی بسته برگزار میگردد.

داوطلبان جدی و واجد شرایط میتوانند اسناد داوطلبی را از ادرس ذیل بدست آرند.

داوطلب مکلف است که ۱۰۰۰۰/ده هزار دالر امریکایی را برای هر سهمیه در حساب بانکی فروشنده در ستندرد چارترد بانک قبل از تاریخ ۱۸ ماه جون سال ۲۰۱۱ بطور پیش پرداخت (تضمین) تحویل نماید و آویز بانکی را ضمیمه آفر خود نماید.

این روغن تصفیه شده سویا بین تولید U.S.A ایالات متحده امریکا بوده که در قطی های پلاستیکی و فلزی ۴ لیتره که شش قطی در یک کارتن میباشد بسته بندی شده است.

کمترین مقدار برای داوطلبی یک سهمیه ۶۸۰۴ کارتن ویا ۱۵۰ میتریک تن و یا مساوی به۱۶۳۲۹۶ لیتر میباشد، بشکل مجموعی ۲۲ سهمیه در این داوطلبی پیشکش میگردد.

دفتر امریکن سویابین اسوسیشن (ASA)
خانه نمبر ۱، سرک ۲
بهارستان کابل افغانستان
تیلیفون دفتر: ۰۷۵ ۲۰۱۶۱۵۴
موبایل ملاخیل: ۰۷۹۹۲۰۳۰۱۰
حامد فیصل: ۰۷۹۳ ۷۶۲۲۲۰

شمامیتوانید کاپی انگلیسی را توسط ایمیل از مدیر تدارکات موسسه (ASA) تقاضا نمایید:
asamonetize@yahoo.com
تیلیفون امریکا: ۶۱۰۲-۳۴۵-۲۰۹-۰۰۱ و یا
Mr. Robert Clark – , Columbus, Ohio
Main Line: + ۱ ۶۱۴ ۸۳۹ ۲۷۰۰
Fax Number: + ۱ ۶۱۴ ۸۳۹ ۲۷۰۹
E-mail address: rclark@cbi-global.com
5898 Cleveland Avenue, Columbus, Ohio ۴۳۲۳۳۱, U.S.A

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده هفدهم: ۳- انتخاب اعضاء کمیته با دعوت به گردهمایی سرمنشی سازمان ملل متحد از دولتهای عضو در هر دوسال یکبار انجام خواهد گرفت. حد نصاب در این گردهمایی، شرکت دو سوم کشورهای عضو می باشد. افرادی که حائز اکثریت آراء از طرف نماینده گان حاضر دولتهای عضو باشند، انتخاب خواهند شد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپانه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com